Pashto

# ENCINA HIGH SCHOOL

## د زده کوونکي-والدینو لارښود

### د انسینا عالي لیسې د لرلید بیانیه

په انسینا عالي لیسه کې، مونږ د نژاد پرستۍ ضد او کلتوري پلوه ځواب ورکوونکي زده کړې ته ژمن یو چې:

- زمونږ په متنوع ټولنه کې د تړاو او امنیت قوي احساس رامینځته کوي؛
- د امید، خپلواکۍ او انتقادي فکر پیاوړی کوي؛
- د ځوانان پیاوړي کوي چې زمونږ په ټولنه کې بدلون راولي.

| مشاورین | اداره |
|---|---|
| سیډني بوچر (Sydnee Butcher) مشاور | ګریټا شولټس ( Greta Scholtes) مدیر |
| ازاده خضایي ( Azadeh Khazaei) مشاور | یاسر سلمان، مرستیال مدیر |
| ماناسا کیکاو، (Manasa Kikau) مشاور | لوري ساټو (Lori Sato )، مرستیال مدیر |
| الیسیو میلان ( Eliseo Millan)  مشاور | میشل سپیډ ( Michele Speed ) مرستیال مدیر |

| د ښوونځي  عمومي شمیره: 971-7538 (916)   نوټ: اړینږ ته د رسیدو لپاره صفر ته فشار ورکړئ | |
|---|---|
| د سپورت دفتر | (۹۱۶) ۹۷۱ ۵۸۱۳ |
| حاضري – **غیر حاضري لپاره یوازې (یو پیغام پریږدئ)** | (۹۱۶) ۹۷۱ ۷۵۵۰ |
| یوازې له وخته رخصتي | (۹۱۶) ۹۷۱ ۷۵۴۲ |
| د مشورې دفتر | (۹۱۶) ۹۷۱ ۷۵۴۷ |
| د مالي چارو دفتر | (۹۱۶) ۹۷۱ ۵۸۸۷ |
| د والدینو/کورنۍ د ملاتړ سفیر | (۹۱۶) ۹۷۱ ۵۸۹۸ |
| د مدیر  دفتر | (۹۱۶) ۹۷۱ ۵۸۳۹ |
| ریکارډونه/سوانح | (۹۱۶) ۹۷۱ ۷۵۵۱ |
| د مرستیال مدیر دفتر | (۹۱۶) ۹۷۱ ۷۵۴۶ |

### د BELL  ښوونځي مهالویشونه

**پوره ورځې: دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه او جمعه**

| ساعت | پیل | پای |
|---|---|---|
| ۰ | سهار ۷:۳۴ | سهار ۸:۲۵ |
| ۱ | ۸:۳۰ | ۹:۲۱ |
| ۲ | ۹:۲۶ | ۱۰:۱۷ |
| ۳ | ۱۰:۲۲ | ۱۱:۱۳ |
| ۴ | ۱۱:۱۸ | ۱۲:۱۲ |
| غرمې ډوډۍ | ۱۲:۱۲ | ۱۲:۴۲ |
| ۵ | ۱۲:۴۷ | ۱:۳۸ |
| ۶ | ۱:۴۳ | ۲:۳۴ |
| ۷ | ۲:۳۹ | ۳:۳۰ |

**له وخته رخصتي: پنج شنبه**

| ساعت | پیل | پای |
|---|---|---|
| ۰ | سهار ۷:۴۵ | سهار ۸:۲۵ |
| ۱ | ۸:۳۰ | ۹:۱۲ |
| ۲ | ۹:۱۷ | ۹:۵۹ |
| ۳ | ۱۰:۰۴ | ۱۰:۴۶ |
| ۴ | ۱۰:۵۱ | ۱۱:۳۳ |
| غرمې ډوډۍ | ۱۱:۳۳ | ۱۲:۰۳ |
| ۵ | ۱۲:۰۸ | ۱۲:۵۰ |
| ۶ | ۱۲:۵۵ | ۱:۳۷ |
| ۷ | ۱:۴۲ | ۲:۲۴ |

**لنډې ورځې: نیټې توپیر لري**

| ساعت | پیل | پای |
|---|---|---|
| ۰ | سهار ۷:۵۵ | سهار ۸:۲۵ |
| ۱ | ۸:۳۰ | ۹:۰۰ |
| ۲ | ۹:۰۵ | ۹:۳۵ |
| ۳ | ۹:۴۰ | ۱۰:۱۰ |
| ۴ | ۱۰:۱۵ | ۱۰:۴۵ |
| ۵ | ۱۰:۵۰ | ۱۱:۲۰ |
| غرمې ډوډۍ | ۱۱:۲۰ | ۱۱:۵۰ |
| ۶ | ۱۱:۵۵ | ۱۲:۲۵ |
| ۷ | ۱۲:۳۰ | ۱:۰۰ |

### د جنترۍ مهمې نیټې

| | | | |
|---|---|---|---|
| د ممتازو زده‌کوونکو د ستاینې مراسم، د ماسپښین له ۱:۴۳ -۲:۳۴، د ښوونځي په تالار کې | جنوري ۲۲ | د ساینس د نوې ودانۍ د پټې پرېکولو مراسم، د سهار په ۹ بجې (موقتي) | اګست ۱۲ |
| د ژمي د سپورت انځور (نور معلومات وروسته) | جنوري ۲۵ | د ښوونځي لومړۍ ورځ او د لنډې ورځې مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ څخه د ماسپښین تر ۱ بجې | اګست ۱۳ |
| د غوږنو معاینه د لسم ټولګي لپاره حتمي ده ( نور معلومات وروسته) | جنوري ۲۶ | د لنډې ورځې مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ څخه د ماسپښین تر ۱ بجې | اګست ۱۴ |
| د کلب انځورونه (نور مالومات وروسته) د لوی جمنازیوم په تالار کې | جنوري ۲۸ | سینیر سنرایز (Senior Sunrise): د سهار د ۷:۳۰ – ۸:۳۰ بجو په انسینا لوبغالی کې | اګست ۲۱ |
| د نهم ټولګي د مضمونونو د انتخاب شپه، د مازیګر له ۵:۳۰ تر ۷ بجو، په لوی جم کې | فبروري ۳ | د انځور ورځ: ټوله ورځ - لوی جمنازیوم | اګست ۲۷ |
| د ځلورمې دورې د پرمختګ د درجه بندۍ پای | فبروري ۵ | ښوونځي ته د بېرته راستنیدو غونډه: د سهار له ۱۱:۴۹ څخه د غرمې تر ۱۲:۲۷ بجو پورې په لوی جم کې | اګست ۲۸ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د څلورم پرمختګ راپور نمرې د سهار تر ۸ بجو پورې ولېږل | فبروري ۹ | ښوونځي ته بیرته د راستنیدو شپه: د مازیګر د ۵ څخه تر ۷ بجو پورې په لوې جم کې | سپتمبر ۳ |
| د کالج او مسلک نندارتون، د سهار له ۱۰:۲۲ څخه د غرمې تر ۱۲:۱۲ بجو، لوی جمنازیوم | فبروري ۹ | د ساینس د نوې ودانۍ د پټې پرېکولو مراسم (موقتي) | سپتمبر ۳ |
| د خولۍ او چپنې خرڅلاو، د غرمې پر مهال، په خوړنځي کې | فبروري ۹ | د لنډې ورځ: د سهار له ۸:۳۰ څخه د ماسپښین تر ۱ بجې پورې | سپتمبر ۴ |
| د ویلنټاین میله، د مازدیګر له ۳:۳۰–۵:۰۰ بجو پورې، د ښوونځي د فیس په دفتر یا خوړنځي کې | فبروري ۱۱ | د مزدور د ورځې په مناسبت ښوونځي رخصت دی | سپتمبر ۷ |
| د څلورم پړاو د پرمختګ نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ دي / کور ته لېږل | فبروري ۱۲ | کواډ یا مرکزي انګړ کې راټولیدل (د فلم شپه، لوبې، خواړه) | سپتمبر ۱۱ |
| د ولسمشرانو اونۍ په مناسبت – ښوونځی رخصت ده | فبروري ۱۵-۱۹ | د اولې دورې د پرمختګ د درجه بندۍ پای | سپتمبر ۱۱ |
| د (BSU) روحاني اونۍ | فبروري ۲۲-۲۶ | د لومړۍ پرمختګ راپور نمرې د سهار تر ۸ بجو لیږل | سپتمبر ۱۵ |
| د BSU لاریون – د ۴ ساعت، پیل په (۱۱:۴۹)، مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ - ۳:۳۰ بجو | فبروري ۲۶ | د ممتازو زده‌کوونکو د ستاینې مراسم، د ماسپښین له ۱:۴۳ څخه تر ۲:۳۴، د ښوونځي په تالار کې | سپتمبر ۱۶ |
| د پسرلنیو سپورټونو انځورونه (نور معلومات وروسته) | مارچ ۸ | د لومړي پړاو د پرمختګ نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ دي / کور ته لېږل | سپتمبر ۱۸ |
| د خولۍ او چپنې خرڅلاو، د غرمې پر مهال، (وروستی حضوري خرڅلاو)، په خوړنځي کې | مارچ ۹ | د منې د کلب د معرفۍ او غړیتوب غونډه، د غرمې د ډوډۍ پر مهال، په تالار کې | سپتمبر ۲۳ |
| د لنډې یا نیمې ورځې مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ څخه د ماسپښین تر ۱ بجې | مارچ ۱۰ | د وینې ورکولو کمپاین: د سهار له ۸ بجو څخه د ماسپښین تر ۲:۳۰، د ښوونځي د بیرغ ستنې ترڅنګ | سپتمبر ۳۰ |
| د پنځمې دورې د پرمختګ د درجه بندۍ پای | مارچ ۱۹ | د انځور د بیا اخستلو ورځ د سهار له ۸:۳۰ – ۱:۳۰ بجې، په لوی جم کې | اکتوبر ۲ |
| د پسرلي د رخصتۍ په مناسبت – ښوونځی رخصت ده | مارچ ۲۲-۲۶ | ښوونځی رخصت ده | اکتوبر ۵ |
| د ښوونځي روحاني اونۍ | مارچ ۲۹ – اپریل ۲ | د دوهم پړاو د پرمختګ د درجه بندۍ پای | اکتوبر ۹ |
| د پروم (د فراغت د محفل) ټکټونه د پلور لپاره موجود دي | مارچ ۲۹ – اپریل ۲۱ | د Homecoming د جشن یا روحیې اونۍ | اکتوبر ۱۲-۱۶ |
| د پنځم پرمختګ راپور نمرې باید د سهار تر ۸ بجو ولېږل شي. | مارچ ۳۰ | د کالج اونۍ (موقتي) | اکتوبر ۱۲-۱۶ |
| د پنځم پړاو د پرمختګ نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ دي ی/ کور ته لېږل | اپریل ۲ | د دوهم پرمختګ راپور نمرې باید د سهار تر ۸ بجو پورې لیږل | اکتوبر ۱۳ |
| د پسرلي لاریون د ۴ ساعت ، پیل په (۱۱:۴۹)، د لاریون مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ - ۳:۳۰ بجو | اپریل ۲ | د خولۍ او چپنې خرڅلاو، د غرمې پر مهال، په خوړنځي کې | اکتوبر ۱۳ |
| د موسیقۍ جشن، د ماښام له ۴:بجو څخه تر ۷ بجو پورې، په سټیج باندې | اپریل ۲ | د کالج نندارتون (نور معلومات وروسته) | اکتوبر ۱۵ |
| د CAASPP ازموینې لپاره برعکس لنډ مهالویش، د غرمې له ۱۱:۳۰ - ۳:۳۰ بجو | اپریل ۱۳ | د لومړي پړاو د پرمختګ نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ / کور ته لېږل | اکتوبر ۱۶ |
| د CAASPP ازموینې لپاره برعکس لنډ مهالویش، د غرمې له ۱۱:۳۰ - ۳:۳۰ بجو | اپریل ۱۴ | د کور راستنېدو لاریون: ۴م ساعت، پیل په (۱۱:۴۹)، مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ - ۳:۳۰ بجو | اکتوبر ۱۶ |
| د ښوونځي روحاني اونۍ | اپریل ۱۹-۲۲ | د Homecoming د نڅا / جشن د ماښام له ۷ - ۱۰ بجو پورې په کوچنی جمنازیوم کې | اکتوبر ۱۶ |
| د وختي رخصتۍ مهالوېش: د سهار له ۸:۳۰ بجو څخه تر غرمې ۲:۲۴ بجو | اپریل ۲۱ | د Homecoming Tailgate میله او تشویق برخه: د سهار له ۱۱ - ۲ بجو پورې، په لوبغالي کې | اکتوبر ۱۷ |
| نړیواله شپه/خلاص کور: د مازیګر له ۵ څخه تر ۷ بجو، (نور معلومات وروسته) | اپریل ۲۱ | د منې د سپورټونو انځورونه، (نېټه لا نده ټاکل شوې) | اکتوبر ۲۱ |
| د لنډې یا نیمې ورځې مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ څخه د ماسپښین تر ۱ بجې | اپریل ۲۲ | د منې جشن، د مازیګر له ۴ – ۷ بجو، د ښوونځي د ټیوشن په دفتر یا خوړنځي کې | اکتوبر ۳۰ |
| د تعطیل په مناسبت – ښوونځی رخصت ده | اپریل ۲۳ | د ماشومانو د کنسروا خوارکي توکو راټولولو کمپاین، په ۴م ساعت کې | نومبر ۲-۱۸ |
| د شپږم پرمختګ راپور نمرې باید د سهار تر ۸ بجو پورې ولېږل شي. | اپریل ۳۰ | د دریمې دورې د پرمختګ د درجه بندۍ پای | نومبر ۶ |
| پروم (د فراغت محفل): د ماښام له ۷ - ۱۰ بجو، په Holiday Inn Downtown کې (نور معلومات وروسته) | May 1 | د دریم پرمختګ راپور نمرې باید د سهار تر ۸ بجو پورې ولېږل شي. | نومبر ۱۰ |
| د شپږم پرمختګ راپور نمرې باید د سهار تر ۸ بجو پورې ولېږل شي. | May 4 | د خولۍ او چپنې خرڅلاو، د غرمې پر مهال، په خوړنځي کې | نومبر ۱۰ |
| د شپږم پړاو د پرمختګ نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ دي / کور ته لېږل | May 7 | د دریم پړاو د پرمختګ نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ دي / کور ته لېږل | نومبر ۱۰ |
| د کارکوونکو د ستاینې یا قدردانۍ اونۍ | می ۳-۳۷ | **د پخوانیو سرتیرو د ورځې په مناسبت ښوونځی رخصت دی** | نومبر ۱۱- ۱۳ |
| د حاضرۍ د لمانځنې مراسم، د غرمې له ۱۱:۱۸ څخه تر ۱۲:۱۲، په تالار او انګړ کې | می ۵ | د حاضرۍ د لمانځنې مراسم، د غرمې له ۱۱:۱۸ څخه تر ۱۲:۱۲ پورې، په تالار او انګړ کې | نومبر ۱۸ |
| د وینې ورکولو کمپاین: د سهار له ۸ - ۲:۳۰ بجو، د ښوونځي د بیرغ ستنې ترڅنګ | می ۶ | د فلم شپه، د ماسپښین له ۳:۳۰ تر ۵:۳۰ بجو پورې، په کافېټیریا یا خوړنځي کې | نومبر ۱۹ |
| د دولسم ټولګي د زده‌کوونکو د جایزو شپه: د ماښام له ۶ - ۷:۳۰ بجو پورې، په لوی جم کې | می ۲۰ | د Thanksgiving د تعطیل په مناسبت ښوونځی رخصت ده | نومبر ۲۳ - ۲۷ |
| د ښوونځي روحاني اونۍ | می ۲۴-۲۸ | د ژمي روحاني اونۍ | نومبر ۳۰ – دسمبر ۴ |
| د کال پای (EOY) لاریون، څلورم ساعت, پیل: (۱۱:۴۹) مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ -۳:۳۰ بجو | می ۲۸ | د کالج لپاره مالي مرسته، د ماښام له ۶ - ۸ بجو په خوړنځي کې (نور معلومات وروسته) | دسمبر ۳ |
| د Memorial Day ورځې په مناسبت ښوونځی رخصت دی | می ۳۱ | د (Winter Black Light Rally) لاریون، ۴ ساعت، پیل په (۱۱:۴۹)، مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ - ۳:۳۰ بجو | دسمبر ۴ |
| (Senior Finals) د دولسم ټولګي د زده‌کوونکو وروستۍ ازموینې | جون ۱ | د خولۍ او چپنې خرڅلاو، د غرمې پر مهال، په خوړنځي کې | دسمبر ۸ |
| (Senior Finals) د دولسم ټولګي د زده‌کوونکو وروستۍ ازموینې | جون ۲ | د Encina Cares برنامه، د ماسپښین له ۲:۴۵ - ۴:۳۰ بجو پورې، په خوړنځي کې | دسمبر ۱۰ |
| Senior Sunset برنامه: د مازیګر د ۶ - ۸:۳۰ بجو ، د ښوونځي د ټیوشن په دفتر یا خوړنځي کې | جون ۲ | د وینې ورکولو کمپاین: د سهار له ۸ بجو څخه د ماسپښین تر ۲:۳۰ بجو، د ښوونځي د بیرغ ستنې ترڅنګ | دسمبر ۱۱ |
| د وروستي کال د زده کوونکو (Seniors) د نمرو لیږل | جون ۳ | کوکوا او کرام (Cocoa & Cram)، د مازیګر له ۳:۳۰ - ۴:۳۰ بجو، د ودانۍ په i/k wing کې | دسمبر ۱۶ |
| د فارغانو د وتلو پروسه: د سهار له ۹ - ۱۱:۳۰ بجو ، د لوی جمنازیم په مخکنی تالار کې | جون ۳ | وروستۍ ازموینې: د طاقو اوږدو ساعتونو ( Odd Block) مهالویش: د سهار د ۸:۳۰ - ۲:۱۵ بجو | دسمبر ۱۷ |
| د لنډې یا نیمې ورځې مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ څخه د ماسپښین تر ۱ بجې | جون ۴ | وروستۍ ازموینې: د جفتو ساعتونو (Even Block) مهالویش: د سهار له ۸:۳۰ څخه د غرمې تر ۱ بجې | دسمبر ۱۸ |
| د فراغت مراسم (اموقتي)، د مازیګر له ۶ - ۷:۳۰ بجو پورې. | جون ۴ | د ژمي د تعطیل په مناسبت ښوونځی رخصت دی | دسمبر ۲۱ – جنوري ۴ |
| د طاقو مضمونونو وروستۍ ازموینې (Odd Finals): د سهار له ۸:۳۰ - ۲:۱۵ بجو | جون ۷ | د لومړي سمستر د درجه بندۍ دورې پای | جنوري ۴ |
| د ښوونځي وروستۍ ورځ | جون ۸ | د لومړي سمستر نمرې د سهار تر ۸ بجو پورې لیږل | جنوري ۵ |
| د جفتو مضمونونو وروستۍ ازموینې (Even Finals): د سهار له ۸:۳۰ - ۱ بجې | جون ۸ | د لنډې یانیمې ورځې مهالوېش: ښوونځی له ۸:۳۰ بجو څخه تر ۱ بجې | جنوري ۵ |
| د دوهم سمستر د درجه بندۍ دورې پای | جون ۸ | د لومړي سمستر نمبرې په Q سیستم کې د لیدو وړ دي / کور ته لېږل | جنوري ۸ |
| د دوهم سمستر نمرې تر ۲ بجو لیږل | جون ۹ | د خولۍ او چپنې خرڅلاو، د غرمې پر مهال، په خوړنځي کې | جنوري ۱۲ |
| د اوړي رخصتي | جون ۹ – اګست ۱۱ | د کار کوونکو او زده کوونکو ترمنځ د باسکتبال دوستانه سیالۍ له ۳:۳۰ - ۴:۳۰ بجو ، په لوی جمنازیوم کې | جنوري ۱۳ |
| د دوهم سمستر نمرې په Q کې د لیدو وړ دي / کور ته لېږل | جون ۱۶ | د دولسم ټولګي د شاګردانو انځورونه اخستل (نور معلومات وروسته)، د لوی جم په دهلیز کې | جنوري ۱۹ |

# د حاضرۍ تګلارې

والدین/سرپرست **پنځه (۵)** د ښوونیزې ورځې لرې ترڅو د زده کوونکي غیر حاضرې پاکه کړي. دا کار به دې بریښنا لیک ته EncinaAbsence@sanjuan.edu د یو نوټ د لیږلو، د سان هوآن یونیفایډ ښوونیزې حوزې د موبایل اپلیکیشن په کارولو، یا د حاضرۍ دفتر ته د زنګ وهلو د لارې څخه ترسره کیدی شي.

**یوازې د غیر حاضرۍ لپاره پدې شمیره 7550-971 (916) اړیکه ونیسئ او د پیغام لیږلو او د وخته رخصتیدلو لپاره پدې شمیره 7542- 971 (916) اړیکه ونیسئ.**

مهرباني وکړئ لاندې معلومات ورکړئ، ایمیل وکړئ کله چې د تلیفون له لارې پیغام پریږدئ، د والدینو د پورټل له لارې معلومات لیږئ، یا یو نوټ لیکئ:

- د هغه شخص نوم چې د زده کوونکي غیر حاضري تصفیه کوي او د زده کوونکي سره د هغه اړیکه
- د زده کونکي نوم او تخلص (او دواړه نومونه په ټکو ویل)
- د غیر حاضریدو نیټه
- دلیل ووایئ (د بیلګې په توګه، ناروغي، طبي لیدنه، د سوداګرۍ ملاقات، او نور)

| **د عذر سره غیر حاضري: د کلیفورنیا د زده کړې د قانون سره سم** | **بدون له عذره غیر حاضري** |
|---|---|
| ناروغي (تر ۵ ورځو پورې یا د ناروغۍ معادل دوره چې د ډاکټر لخوا تایید شوې نه وي) | بس یا موټر څخه پاتې شوی |

| | |
|---|---|
| قرنطین د یو ولایت یا ښار روغتیايي افسر تر لارښوونې لاندې | له ښاره بیرون |
| طبي، د غاښونو، سترګو، یا د chiropractic خدمتونه. (د ډاکټر نسخې ته اړتیا ده) | کورنۍ رخصتي |
| جنازه --- په کالیفورنیا کې د جنازې خدماتو لپاره یوه ورځ معاف ده؛ درې ورځې د دولت څخه بهر خدماتو لپاره معاف دي. د غیر حاضرۍ دا عذر یوازې د کورنۍ د نږدې غړو لپاره او د دوی د خدماتو لپاره دی. په کورنۍ کې مور او پلار، نا سکه مور او پلار، نیکه، نیا، وروڼه، خویندې (پشمول د ناسکه خویندو او ورورنو) او هر هغه خپلوان چې په کور کې اوسیږي شامل دي | د زده کوونکي له ناروغۍ پرته کومه بله ناروغي |
| په محکمه کې حاضریدل (بصري اسناد اړین دي) | د مور او پلار سره ډاکټر ته تلل |
| د زده کوونکي د مذهب د رخصتۍ یا مراسمو لمانځل | |

**ناوخته راتګ (TARDIES)**

له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د وروستي زنګ وهلو دمخه ټولګي ته راشي. اوږدمهاله نا وخته راتګ به د VP دفتر ته راجع کیږي. مخکې له دې چې اداري ته راجع شي، ښوونکي حق لري چې زده کوونکي د ناوخته راتګ په خاطر په حاضرۍ کې په نښه کړي. که تاسو د ناوخته راتګ په اړه خاصې پوښتنې لرئ، لطفاً "Q" وګورئ او/یا د هغه ساعت چې زده کوونکی پکې د ناوخته راتګ لپاره په نښه شوی، د ښوونکي سره اړیکه ونیسئ.

## د ناوخته راتګ د پالیسۍ پېژندنه

یو زده کوونکی هغه ناوخته راتلونکی (tardy) ګڼل کیږي که چیرې نوموړی په ټولګي کې د وروستي زنګ لخوا زده کړې ته اماده نه وي. په خپل وخت راتګ او چمتو کیدل د ښوونکي او ټولګیوالو د درناوي د دریو R's غوره بیلګه ده، د ټولګیو تر منځ د وخت اداره کولو مسولیت او په پای کې چمتو کیدل - هغه دا چې په وخت سره په ټولګي کې اوسیدل او د ټولګي لپاره د اړتیا وړ موادو درلودل.

- ۱ څخه تر ۴ ناوخته راتګ پورې = اخطارونه
- ۵ څخه تر ۶ ناوخته راتګ پورې =
- ۷ ناوخته راتګ = (بل ناوخته راتګ = ۱ ساعت وروسته د ښوونځي د توقیف څخه)
- ۸ نه تر ۱۰ ناوخته راتګ پورې = ۱ ساعت وروسته د ښوونځي د توقیف څخه)
- ۱۱ ناوخته راتګ پورې = د SCIA غونډه نیول
- ۱۲ څخه تر ۱۳ ناوخته راتګ پورې = د شنبې د ورځې ښوونځی
- ۱۴م ناوخته راتګ پورې = د شنبې د ورځې ښوونځی+ د عادتي ناوخته راتګ کنفرانس + د نا وخته راتګ تړون
- ۱۵م + ناوخته راتګ پورې = د درجه بندۍ د پاتې مودې لپاره بولډاګ باډي (Bulldog Buddy for the Remainder of the grading period)

## په حاضرۍ کې تیروتنې

که چیرې یو زده کوونکی، مور او پلار یا سرپرست د حاضرۍ په ریکارډ کې تېروتنه وګوري، زده کوونکی د دې بدلونونو لپاره پنځه ورځې لري. دوی باید سمدستي:

- د حاضرۍ د دفتر څخه د سمون یا اصلاح فورمه ترلاسه کړئ.
- ښوونکی دې د سمون یا اصلاح فورمه ډکه کړي.
- د سمون یا اصلاح فورمه د حاضرۍ دفتر ته ور وړئ.

## خوندیتوب

د ښوونځي د خوندیتوب هر اړخیزه پروګرام (CSSP) ته د لاسرسي لپاره، ددې لینک https://encina.sanjuan.edu/resources/safety-plans څخه لیدنه وکړئ

## د چلند اوصول/انضباطي تګلارې

زده کوونکي اړ دي چې د ښوونځي د اصولو او مقرراتو، او همدارنګه د جنايي او مدني مقرراتو، دواړه په کیمپس کې او د کیمپس څخه بهر د ښوونځي په اړوندو فعالیتونو کې مراعات کړي.

## ادبي غلا او درغلي

په ښوونځي کې د ایماندارۍ د ټینګار له امله، علمي خیانت به د منلو وړ نه وي. هغه زده کوونکي چې درغلي کوي د دندې په اړه به F ترلاسه کړي او ممکن د تابعیت په اړه F ترلاسه کړي. اضافي انضباطي پایلې ممکن پلې شي.

## ځورونه/ سایبري ځورونه

ځورول د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو په منځ کې ناغوښتل شوي، تیری کوونکي چلند دی چې د حقیقي یا احساس شوي ځواک عدم توازن پکې شامل وي. چلند تکرار شوی، یا د وخت په تیریدو سره د تکرار احتمال لري. په ځورونې کې داسې اعمال شامل دي لکه ګواښونه کول، اوازې خپرول، په یو چا فزیکي یا لفظي برید کول، او په قصدي توګه له یوې ډلې څخه د یو چا ویستل. سایبر ځورونه هغه ځورونه ده چې د بریښنايي ټیکنالوژۍ په کارولو سره ترسره کیږي. په الکترونیکي تکنالوژۍ کې الات او وسایل شامل دي لکه ګرځنده تلیفونونه، کمپیوټرونه، او ټابلیټونه او همدارنګه د ارتباطي وسایلو په شمول د ټولنیزو رسنیو سایټونه، متن پیغامونه، خبرې، او ویب پاڼې. د سایبر ځورونې مثالونه د سپکاوي متن پیغامونه یا بریښنالیکونه، اوازې د بریښنالیک له لارې لیږل شوي یا د ټولنیزو شبکو په سایټونو کې خپاره شوي، او شرمونکي انځورونه، ویډیوګانې، ویب پاڼې، یا جعلي پروفایلونه شامل دي. ځورونې او/یا سایبر ځورونې به د انسینا په عالي ښوونځي کې ونه زغمل شي. که یو زده کوونکی احساس وکړي چې دوی ځورول کیږي، دوی کولی شي، په کیمپس کې هر بالغ ته راپور ورکړي، دې شمیرې 5552-243 (916) ته یو پیغام واستوي، تلیفون 8477-979 (916) ته یا د حوزې د ویب پاڼې له لارې www.sanjuan.edu/bullying راپور ورکړي. مرستیال مدیران به مناسبې پایلې وڅیړي او صادر کړي چې ممکن د اداري مشورې څخه تر تعلیق او/یا اخراج پورې وي.

## محرم راپور ورکول

که یو زده کوونکی د بل زده کوونکي سره کومه شخړه ولري دوی باید خپل مرستیال مدیر او / یا مشاور سره وګوري. که تاسو شک لرئ چې یو ملګری ممکن د لفظي یا فزیکي شخړې

سره مخ دی، لطفاً خپل مشاور یا مرستیال مدیر ته راپور کړئ، دوي به ستاسو د هویت ساتنه وکړي. هغه زده کوونکي چې په فزیکي یا لفظي شخړو کې ښکیل وي دوی سره د انضباطي کړنلارو په پر بنسټ چلند کیږي. د نامعلوم خوندیتوب اندیښنې راپور ورکولو لپاره، دې ویب پاڼې https://www.sanjuan.edu/need-help-list ته ورشئ.

## د ټولګي تعلیق

که چیرې ستاسو زده کوونکی د خپلې زده کړې د یو مناسب چاپیریال په ساتلو کې پاتې راشي، نو د کالیفورنیا د تعلیم قانون ښوونکو ته دا حق ورکوي چې یو زده کوونکی تر دوو ورځو پورې له خپل ټولګي څخه وځنډوي. که فرضاً د کار صورت وموږي، ستاسو زده کوونکی به د مرستیال دفتر ته ولیږل شي او ښوونکی به تاسو سره په ۲۴ ساعتونو کې اړیکه ونیسي.

## د ټرل شوي کیمپس سرغړونې/ له حدودو څخه بهر/بې ځایه ګرځیدل

یوازې راجستر شوي زده کوونکي کولی شي د سهار له ۷:۳۰ څخه د مازیګر تر ۴ بجو پورې د ښوونځي په انګړ کې وا وسیږي. نور ټول لیدونکي باید د لیدنې څخه دمخه د مدیر په دفتر کې خپل ځانونه تصویب او راجستر کړي.

| بې ځایه ګرځیدل | له حدودو څخه بهر | **د ټرل شوي کیمپس سرغړونې** |
|---|---|---|
| زده کوونکي باید د ښوونځي څخه وروسته یا د ښوونځي له برنامو وروسته د ښوونځي په ډګرونو کې پاتې نشي. که تاسو د ښوونځي څخه وروسته په پروګرام کې ګډون کوئ (سپورټ، IYT، ASSETS، او نور)، تاسو باید د ښوونځي پای ته رسیدو وروسته د په ۱۰ دقیقو دننه د پروګرام ځای ته ورشئ. | د امنیتي دلایلو پر بنسټ، هیڅ زده کوونکی اجازه نه لري چې د پارکینګ ځای، ورزشي ډګرونو او لوبغالي ته ننوځي، په کوم ټولګي یا تالار کې شتون ولري بغیر د ښوونکي د موجودیت څخه، د Katherine Johnson منځنی ښوونځي دهلیزونه، او/یا د ښوونځي مخې ته. | **__یوځل__** چې زده کوونکي کیمپس ته راشي هیڅ خبره نه ده که د ورځې هر وخت وي یا کوم بل دلیل وي، د صفر درسي ساعت په شمول، دوي نشي کولی چې بغیر د اجازت څخه د مخه د ښوونځي څخه ووځي. |
| هغه زده کوونکي چې د ښوونځي یا د ښوونځي د برنامې وروسته لرې شوي وموندل شي ممکن د راتلونکي برنانه کې د ګډون څخه منع شي، مدیریت ته راجع شي، او د قانوني کړنې سره مخ شي. | د غرمې ډوډۍ د اخیستلو لپاره په پارکینګ کې د سره لیدنه د دې قانون څخه سرغړونه ده. | |

## د جامو قانون

**۱. زده کوونکي باید لاندې جامې واغوندي:**

- یو نه لیدنکی کمیس د پټو سره چې مخ، شا او اړخونه پوښي، د سینې په شمول
- یو نه لیدونکی لاندې (زیر) اغوستونکی لکه لمن، جینز، د جامو پټلون، چسپ پټلون، جامې، یا شارټس چې د ناستې یا ولاړې په وخت کې تنې پټوي او باید هر وخت تنې ترلې او زیپ پورته شوي وي.
- (بوټان) د لومړني ښوونځي زده کوونکي باید بوټان د پښو د پټیو یا تسمو سره واغوندي

**۲. زده کوونکي کولی شي واغوندي، تر هغه چې دې توکو د پورتنۍ اولې برخې څخه سرغړونه نه وي کړې:**

- خولۍ، ټوکر شوي جاکټونه، دوراګ (د ویښتانو دساتلو خولۍ)، اوبدل شوي خولۍ، او مذهبي سر پوښونه اجازه لري، مګر مخونه باید د کار کوونکو ته ښکاره وي
- نښتي پتلونونه د لیګینګ او یوګا پتلون په شمول.
- شکیدلی پټلون (تر هغه وخته پورې چې لاندې جامې او هپس ښکاره نشي)
- بې نستونو ټاپونه ، پشمول د سپګیټي پټي، د ټانګ ټاپونه، او کراپ ټاپ
- د ورزشکارانو جامې
- د سپورټ پتلون / د خوب جامې/پاجامه
- په جامو کې د لید ور کمربندونه یا پټې
- د لمر څخه ساتونکي جامې لکه د ښوونځي په جریان کې د بیروني کارونې لپاره خولۍ
- د برانډ نښو، د سپورټ ټیم نښو، یا عکسونو سره جامې اجازه لري تر هغه چې
- لاندې دریم پراګراف څخه سرغړونه ونکړي

**۳. زده کوونکي نشي کولی جامې، زیورات، یا شخصي توکي واغوندي چې:**

- تصویري شیان یا ژبې چې تاوتریخوالی پکې ښکاره کیږي
- د نشه یي توکو، الکول، تمباکو، بخار یا غیرقانوني فعالیتونو پورې اړوند د عکسونو یا ژبې سره شیان ښکاره کول
- فحشا، عیاشي ښکاره کول، یا غیرقانوني یا تاوتریخوالی ته وده ورکول
- د کرکې ډلو ته وده ورکول یا د نژاد، مذهب، توکم پر بنسټ ځانګړي ډلې په نښه کول،
- جنسیت، یا جنسی هویت
- د کرکې وینا ښودل یا وده ورکول: (د کرکې وینا د بیان هر حالت د اظهار دی چیرې چې خلک د توهین یا سپکاوي هڅه کوي، یا
- د خلکو د یوې ډلې په وړاندې د دوی د نژاد، مذهب، پوستکي پر بنسټ نفرت هڅول
- رنګ، جنسي هویت، د جندر هویت، توکم، معلولیت، یا ملي اصل

- د لامبو جامې دي، پرته له دې چې د PE یا سپورت لپاره واغوستل شي
- کیدای شي خطرناک وګڼل شي یا د وسلې په توګه وکارول شي
- مخ پټول (مګر د مذهبي، کلتوري یا روغتیایي دلیلونو لپاره)
- د ډلې تړاو ښکاره کول

ځانګړې پیښې: د ټولو ځانګړو پیښو لارښوونې (لکه نڅا، د سپورت پیښې، لوړ (۱۲ ټولګي زده کوونکو) پیښې، فراغت، روحي ورځې، ساحوي سفرونه، او نور) به نوي کیږي تر څو د جامو د دې قانون سره سمون ولري.

**د جامو د قانون د نه - اطاعت کول په ګوته کول**

- که چیرې یو زده کوونکی د دې جامو قانون عملي نکړي، دوي ممکن د پایلو سره مخ شي لکه د مور او پلار یا سرپرست سره اړیکه نیول، ناسته ترسره کول، یا د جامو پوښلو، بدلولو یا لرې کولو غوښتنه کول چې د مقرراتو څخه سرغړونه کوي. مدیر یا ټاکل شوی مسول به د زده کوونکي والدین یا سرپرست ته د دجامو د سرغړونو په اړه د ښوونځي د ځواب څخه خبر کړي.

**که چیرې یو زده کوونکی د جامو د قانون سره موافق نه وي، لاندې حالت واقع کیدای شي:**

۱. د ټولګي وخت ضایع کول به لږ تر لږه کم شي او زده کوونکي به د غیر لفظي جامو قانون سلیپ ترلاسه کړي ترڅو دفتر ته لاړ شي چې د نه منلو په اړه ځواب ووایي.
۲. غیر لفظي پانه د زده کوونکي د وقار ساتلو او د عامه ذلت د مخنیوي لپاره کارول کیږي.
۳. له زده کوونکو څخه به وغوښتل شي چې د لاندې انتخابونو څخه یو غوره کړي:
a. خپل نورې جامې واغونده، که چیرې د مخه په ښوونځي کې موجودې وي.
b. جامې سرچپه یا په څټ اغوستل.
c. د زپ سره سویټ شرټ یا جاکټ اغوستل.
d. په موقت ډول ښوونځي جامې د ورځې تر پایه پورې په خپله خوښه اغوستل یا تر هغه چې نورې جامې درته راوړل شي.
e. مور او پلار یا سرپرست ته زنګ زنګ وهل چې نورې جامې درته راوړي.

- که والدین/سرپرست زنګ ووهل شي، زده کوونکي به ټولګي ته د پورتنیو لنډمهاله نورو انتخابونو څخه په استفادې سره بیرته ټولګیو ته راشي تر څو چې د دوی نورې جامې را ورسیږي.

د فزیکي زده کړې په ټولګي کې د ګډون کوونکي زده کوونکي هیڅ درجه به منفي اغیزه ونلري که چیرې زده کوونکی د فزیکي زده کړې معیاري جامې وا نه غوندي ځکه چې د زده کوونکي له کنټرول څخه بهر شرایط دي. (د ښوونې او روزنې کوډ 49066 برخه)

## بریښنایی وسایل / ګرځنده تلیفونونه

د کلیفورنیا قانون جوړوونکي مجلس یو قانون تصویب کړی چې له مخې یې ټولې دولتي ښوونځي باید د ښوونځي د ورځې په جریان کې د موبایل تلیفونونو د بندولو یا محدودولو لپاره یو پلان جوړ کړي. دغه قانون ښوونیزې حوزې دې ته اړ باسي چې زده کوونکي د سمارټ فون کارولو څخه یا منع کړي یا یې محدود کړي، هغه مهال چې زده کوونکي د ښوونځي د کارکوونکو تر څار لاندې وي یا د ښوونځي په احاطه کې وي.

**د سان هوان یونیفایډ ښوونیزې حوزې د بورډ تګلاره**

بورډ پالیسي لارښود
سان هوان یونیفایډ ښوونیزه حوزه
قانون ۵۱۳۱.۸: موبایل مخابراتي وسایل
د اصلي تصویب نېټه: ۲۰۲۵ / ۱۶/ ۶

د زده‌کوونکو د زده‌کړې د ملاتړ او د درسي پروګرام د ګډوډونکو او زیان رسوونکو کړنو د مخنیوي لپاره، د سان هوان یونیفایډ ښوونیزې حوزې پالیسي (BP ۵۱۳۱.۸ ) زده کوونکو ته اجازه نه ورکوي چې د موبایل مخابراتي وسایل وکاروي. په اړیکو په وسایلو کې شامل دي، خو محدود نه دي، موبایل تلیفونونه، سمارټ فونونه، ټابلیټونه، پیجرونه، سمارټ واچونه، ایربادونه، او سمارټ عینکې.

## د انسینا عالي لیسې تګلاره:

د تدریس پر مهال د ګډوډۍ د کمولو په خاطر، له زده‌کوونکو څخه ممکن وغوښتل شي چې د ټولګي د پیل پر وخت خپل موبایلونه وسپاري. ډېری ښوونځي د موبایلونو د ساتلو الماری (storage lockers) کاروي او ممکن له زده‌کوونکو وغواړي چې د ټولګي په جریان کې خپل موبایلونه پکې کېږدي. سربېره پر دې، زده کوونکي اجازه نه لري چې د ټولګي پر مهال هیډفونونه یا ایربډونه وکاروي. زده کوونکي کولی شي خپل موبایلونه د ټولګیو ترمنځ د تګ راتګ په وخت (passing periods) او د غرمې د ډوډۍ پر مهال وکاروي. هر هغه موبایل چې د ټولګي پر وخت، که په ټولګي کې وي یا د ښوونځي په بل ځای کې، ښکاره ولیدل شي، ضبطیږي او زده کوونکی به د تدریجي انضباطي اقداماتو سره مخ شي. که څه هم د ټولګیو کړنلارې شاید توپیر ولري، خو له ټولو زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د موبایل د کاروني او ساتلو په اړه د خپلو ښوونکو لارښوونې او استثناوې مراعت کړي. موبایلونه باید د ټولو درسي ساعتونو په دوران کې خاموش او له ځان څخه لرې کېښودل شي.

Pashto

څېړنې ښيي چې د موبایل تلیفون حتی موجودیت هم د زده‌کوونکو لپاره بې توجهي، رواني فشارونه او د زده‌کړې کمزوري پایلې رامنځته کولی شي. د وسایلو د کارونې له منځه وړلو سره، انسینا عالي لیسه غواړي د هر زده‌کوونکي لپاره زده‌کړه او ښکېلتیا لوړه کړي. دا تګلاره د انسینا د لید بیان پیاوړتیا کوي، چې پکې د تعلق، امنیت، هیله، خپلواکۍ، او انتقادي تفکر فضا رامنځته کېږي.

ستاسو له همکارۍ مننه کوو، چې د یوه خوندي او پیاوړي زده‌کړیز چاپېریال په برابرولو کې له مونږ سره مرسته کوئ.

## د پرله پسې یا تدریجي انضباط تګلاره:

- د زده‌کوونکو څخه تمه کېږي چې په ټاکلي وخت کې د کیمپس په حدودو کې د خپلو برېښنايي وسایلو د کارولو پر مهال باید درناوی، مسؤلیت او خوندیتوب وښيي.
- په ټولګي کې برقي وسایل تل باید له سترګو څخه پټ وساتل شي. پدې کې د غوږۍ، هیډفونونه او سپیکرونه هم شامل دي.
- د ټلیفون زنګونه باید په ټولګي کې تل بند یا خاموش وي.

## لومړۍ سرغړونه:

- ټلیفون د ښوونځي د پاتې ورځې لپاره دفتر ته وړل کېږي.
- زده کوونکی کولی شي د ښوونځي د پای څخه وروسته د مرستیال مدیر له دفتره خپل ټلیفون ترلاسه کړي.

## دوهمه سرغړونه:

- ټلیفون د ښوونځي د پاتې ورځې لپاره دفتر ته وړل کېږي.
- زده کوونکی کولی شي د ښوونځي د پای څخه وروسته د مرستیال مدیر له دفتره خپل ټلیفون ترلاسه کړي.
- زده‌کوونکی به له مرستیال مدیر سره مشوره یا کنفرانس کوي.

## دریمه سرغړونه:

- ټلیفون د ښوونځي د پاتې ورځې لپاره دفتر ته وړل کېږي.
- زده کوونکی کولی شي د ښوونځي د پای څخه وروسته د مرستیال مدیر له دفتره خپل ټلیفون ترلاسه کړي.
- د مرستیال مدیر سره د والدینو مشوره یا کنفرانس.

## څلورمه سرغړونه او له هغې وروسته:

- ټلیفون د ښوونځي د پاتې ورځې لپاره دفتر ته وړل کېږي.
- مور یا پلار باید تلیفون واخلي؛ زده‌کوونکي ته به ټلیفون نه ورکول کېږي.
- زده‌کوونکی به د ګرځنده ټلیفون ملګري (Cell Phone Buddy) لیست کې د یوې اوونۍ لپاره شامل شي (یعنې زده‌کوونکی به د ښوونځي په پیل کې خپل ټلیفون (د مرستیال مدیر دفتر ته سپاري او تر ښوونځي وروسته به یې بیرته تر لاسه کوي).

دا الکترونیکي پالیسي ستاسو ښوونکو او ملګرو زده کوونکو ته د **درناوي** وړ ده ځکه چې دا په ټولګي کې پرته له کوم خنډ څخه د لارښوونې او د زده کړې اجازه ورکوي. دا مهمه ده چې د خپلو ښوونکو لارښوونو او د خپلو ملګرو زده کوونکو زده کړې ته درناوی وکړئ.

دا د برقي سامان ألاتو پالیسي تاسو سره مرسته کوي چې **مسؤل** واوسئ ځکه چې دا تاسو ته اجازه درکوي چې په ټولګي کې تمرکز وکړئ او د زده کړې او درسي فعالیتونو د ګډون لپاره چمتو اوسئ. دا تاسو سره به دې کې هم مرسته کوي چې تاسو د خپلو  قیمتي توکو لپاره **مسؤل** اوسئ ځکه چې که ټیلیفونونه مو په ځای کېږدی د غلا یا خرابیدو احتمال به لږ وي. د اینسینا کارمندان د ورک شوي یا غلا شوي برېښنايي توکو لپاره مسؤل ندي.
خورا مهم، د دې برېښنايي وسایلو پالیسي په کیمپس کې خوندیتوب کې مرسته کوي.

## برېښنايي توکي او د کیمپس خوندیتوب:

د Encina په کیمپس کې لاندې کړنې **منع** دي:

- د لفظي یا فزیکي شخړې ثبتول چې د 1 یا ډیرو Encina زده کونکي پکې شامل وي کوم چې د ښوونځي څخه مخکې، په جریان کې یا وروسته وی
- د جګړې ویډیو لیدل چې د 1 یا ډیرو انسینا زده کونکي پکې شامل وي، پرته له دې چې جګړه کله یا چیرته پیښیږي
- د 1 یا ډیرو Encina زده کونکو سره د جګړې ویډیو درلودل په تلیفون

- نورو زده کونکو ته د جګړې ویډیو ښودل چې د 1 یا ډېرو انسینا زده کونکي پکې شامل دي
- د 1 یا ډېرو Encina زده کونکو په ګډون د جګړې د هڅولو لپاره د متن پیغام رسولو یا ټولنیزو رسنیو کارول

هر هغه زده کوونکی چې په کیمپس کې په پورته فعالیتونو کې ښکیل لیدل کیږي د کانفرانس او احتمالي پایلو لپاره د مدیر مرستیال ته راجع کیږي.

## د کمپیوټر کارول:

شخصي کمپیوټرونه او ټابلیټونه ښوونځي ته راوړل اجازه نه لري، او ښوونځی د شخصي وسایلو د زیان یا غلا مسؤل نه دی.
زده‌کوونکي باید د ښوونکو، د ښوونځي د کارکوونکو، د ښوونځي، د ښوونیزې حوزې او د هر هغه کمپیوټري شبکې چې ورته لاسرسی لري، لارښوونې او مقررات تعقیب کړي. تاسو باید د نورو کاروونکو درناوی وکړئ او له هغوی سره په ادب چلند وکړئ. که زده‌کوونکي د ښوونځي او حوزې د کمپیوټر/ټکنالوژۍ له مقرراتو سرغړونه وکړي ممکن اداري ته راجع شي.
د ښوونځي کمپیوټرونه یوازې د ښوونځي اړوند زده‌کړې او څېړنو لپاره دي.

- د ښوونځي کمپیوټرونه او شبکې د شخصي یا تجارتي فعالیتونو لپاره مه کاروئ.
- هېڅ سافټویر یا سند (پرته له هغو چې تاسو یې جوړوئ) مه بدلوئ.
- داسې معلومات مه تولیدوئ، مه ویشئ، مه ورته لاسرسی کوئ، مه یې کاروئ او مه یې زېرمه کوئ چې شخصي، محرم، د چاپ حق لاندې، زیان رسونکي، ګواښوونکي، سپکاوی کوونکي، فاحش، فحش یا نورو ته سپک وي.

**د خوارړو تحویلي یا ډلیوري: په کیمپس کې خوراکي توکو تحویلي نشته.** زمونږ د زده کونکو امنیت خورا مهم دی. له همدې امله ، مونږ په کیمپس کې د خوارړو تحویل ته اجازه نه ورکوو. که تاسو د خوارړو سفارش یا آرډر، په شمول ستاسو د مور او پلار لخوا آرډر یا سفارش، کوم چې د خوراکي توکو رسولو شرکت څخه لیږدول کیږي، ښوونځي به تحویلي رد کړي او تاسو به خپل خوارړه ترلاسه نکړي. مونږ یو تړلی کیمپس یو. که یو مور او پلار د خپل زده کونکي لپاره یو څه راوړي، دوي باید دا د ښوونځي دفتر ته راوړي، او زده کوونکی کولی شي د غرمې په وخت کې هغه واخلي، نه د ټولګي په وخت کې.
د خوارړو رسولو پایلې:
لومړی ځل: خبرداری او کور ته زنګ وهل کیږي
دوهم ځل: د غرمې توقیف
دریم ځل: پنجشنبه د ورځې ښوونځی
څلورم ځل: د شنبې د ورځې ښوونځی

## کرکه تاوتریخوالی

د یو شخص یا ملکیت په وړاندې د کرکې تاوتریخوالی رامینځته کول، د رامنځته کولو هڅه کول، ګواښ کول، یا په هغه عمل کې برخه اخیستل چې د توکم، مذهب، توکمیز / ملي اصلي ډلې په وړاندې تر سره کیږي یا بل ډوک هڅول کیږي، یا د جنسي تمایل ډله د نفرت تاوتریخوالی ډله بلل کیږي. د دې جرم د جدیت او د کالیفورنیا د زده کړې کوډ د دې برخې اړتیاو له امله، د دې مقرراتو څخه هر ډول سرغړونه به د تعلیق سبب شي او کیدای شي د اخراج لپاره د سپارښتنې پایله ولري. زده کوونکي، والدین، سرپرستان او ښوونکي باید د کرکې د تاوتریخوالي شکمنې قضیې سمدستي مدیر ته راپور کړي.

## سګرټ څکول

د سان هوآن یونیفایډ ښوونیزه حوزه د سان هوآن د ټولو ښوونځیو لپاره د وېنګ په شمول د "**سګرټ نه څکولو**" سخته پالیسي لري. **هېڅ وخت د ښوونځي په کیمپس یا ساحه کې سګرټ څکولو ته اجازه نشته.**

## د مینې نامناسبه څرګندونې:

په عامه ځایونو لکه ښوونځی کې ، د مینې له حده زیاته څرګندونه د **منلو وړ** نه ده. یو بل او د خپل شاوخوا خلکو درناوی وکړئ او **مناسب** چلند وکړئ.

## ټولنیز محاکمه

د عالي لیسی په ټولو غیر نصابي فعالیتونو کې برخه اخیستل یو امتیاز دی، نه حق. ټولنیز محاکمه یو زده کوونکی منع کوي چې د ښوونځي په هر غیر لازمي فعالیت، ، یا پېښو کې ګډون وکړي. په دې فعالیتونو کې شامل دي، مګر محدود ندي، په ورزشي ټیمونو کې ګډون کول، تمرینونه، پیښې یا غونډې، نڅاګانې، پروګرامونه، ډرامې او/یا موسیقۍ تولیدات، د کلب غړېتوب، د فراغت مراسم، ځانګړې پیښې، د پېژندنې پروګرامونه، آزموینې، یا د ښوونځي سپانسر شوي فعالیتونه. ټولنیز محاکمه کیدای شي په هر وخت کې وکارول شي چې د ښوونځي چارواکي دا د چلند مناسب بندیز ګڼي یا دا چې دا به د ناغوښتل شوي چلند په بدلولو کې اغیزمن وي

## جګړه

جګړه د SJUSD لخوا د دوه یا ډېرو زده کوونکو تر مینځ د فزیکي شخړې په توګه تعریف شوې --- یو بل سره جګړه کول، د جګړې پیل یا دوام ورکولو کې مرسته کول. **پدې کې بیرته ځواب ورکول شامل دي.** د محاکمې پایلې د تعلیق څخه د زده کوونکي د اخراج د وړاندیز پورې اړه لري.

**د جګړې سره تړلې تعریفونه:**

**د جګړې ودرول یا مخنیوی کول** د نږدې بالغ څخه د مرستې غوښتنه کول. د زده کوونکي هڅول چې له جګړې څخه لرې لاړ شي؛ یا د یو ملګري شاوخوا ګرځې او هغه د شخړې څخه لیرې کړي.

**د ځان دفاع کول** د لاسونو پورته کولو سره ځانګړتیا لري ترڅو د برید مخه ونیسي یا مخنیوی وکړي. د بل زده کونکي د لرې ساتلو لپاره لاسونه پورته کول؛ د جګړې د نه کولو هیله په پرله پسې ډول تکرارول؛ د مرستې غوښتنه کول؛ مخ اړول یا تلل. **اداره به د ځان د دفاع د ټاکلو په اړه وروستۍ وینا ولري.**

**ګواښول/ د جګړې پیل کول** به د جګړې په څیر چلند وشي. لاندې چلندونه د جګړې لپاره لیوالتیا څرګندوي: په یوه دلیل کې پاتې کیدل؛ د بل زده کونکي په لور ګام؛ د مټې کلکول؛ د هغه شیانو غورځول چې ساتل کیږي، د بیلګې په توګه، کڅوړه، کتابونه او نور؛ او بهرنۍ جامې لرې کول، لکه جاکټ. د هر ښوونځي کارمند یا د دوی ملکیت ته ګواښونه، په شمول د انټرنیټ له لارې، د اخراج پروسې لپاره د تعلیق او احتمالي سپارښتنې پایله به وي.

**مداخله کول (مرسته کول او هڅول)** پدې معنی ده چې د بل زده کوونکي په جګړه کې برخه اخیستل یا د هغې په پیل یا دوام کې مرسته کول. زده کونکي د دې چلند لپاره تر پنځو ورځو پورې ځنډول کیدی شي.

**د جګړې لیدلو ته منډه کول (مرسته کول او هڅول)** یا ویډیو جوړول د جګړې احتمال او د جګړې جدیتوب زیاتوي. هغه زده کونکي چې د جنګ ویډیو په چلولو، لیدلو، ویډیوجوړولو ، او/یا شریکولو کې نیول شوي دوی به د دی عمل پایلې ترلاسه کړي. پدې کې د ټولنیزو رسنیو / بریښنایی اړیکو په هر ډول ټولنیز رسنۍ کې د جګړې اپلوډ کول شامل دي.

## د تعلیق او اخراج لپاره لارښووني

د تعلیق او اخراج لارښودونو بشپړ لیست زمونږ د ښوونځي او سان جوآن زمونږ د ښوونځي او ښوونیزی حوزی په ویب پانه کې موجود دی.

## لټون او ضبط کول

د زده کړې د خوندي چاپیریال د ساتلو لپاره، ځینې وختونه د اداري لپاره اړینه ده چې د زده کونکي ملکیت یا شخص پلټنه وکړي ترڅو وسلې یا مخدره توکي ونیسي. لټون باید معقول وي، د ښوونځي د چارواکو دندو پورې اړوند وي او ممکن په تصادفي توګه ترسره نشي. د **SJUSD اداري مقرراتو 5145.12 له مخې، د هغه زده کونکي مور او پلار/سرپرست چې پلټل کیږي باید ژر تر ژره د ښوونیزی حوزی لخوا <u>د لټون وروسته</u> خبر شي.**

# د عالي لیسې د فراغت اړتیاوې

## د سان هوان یونیفایډ ښوونیزې حوزې لپاره

۱. لږترلږه ۲۲۰ کریډیټ بشپړ کړئ. د کریډیټ تنظیم کول ممکن اړین وي که چیرې د بلاک تقسیم اوقات د عالي لیسې څخه راشي.
۲. لاندې اړین کورسونه بشپړ کړئ - 220 کریډیټ.

| مضمون | د عالي لیسي د فراغت اړتیاوې | د UC/CSU کالج ته د داخلی اړتیاوې |
|---|---|---|
| انګلیسي | ۴۰ کریډیټه | څلورکاله |
| اجتماعی علوم | ۳۵ کرډیټه<br>• د نړۍ تاریخ، د متحده ایالاتو تاریخ، اقتصاد/حکومت او ټولنیزې مطالعې انتخابي | ۲ کاله<br>• د نړۍ تاریخ<br>• د امریکا تاریخ |
| ریاضی | ۳۰ کریډیټه | ۳ کاله لږترلږه د IM 3 له لارې باید بشپړ شي |
| ساینس | ۳۰ کریډیټ<br>• د ژوند ساینس، فزیکي ساینس او 1 اضافي کورس | ۲ کلونو ته اړتیا ده<br>۳ کاله وړاندیز شوی |
| سپورت یا PE | ۲۰ کریډیټ | کارورې نه دیn/a |
| د نړۍ ژبه | ۲۰ کریډیټ (باید د ورته ژبې وي) | ۲ کاله |
| بصری او اجرایي هنرونه | ۱۰ کریډیټه | ۱ کال |
| روغتیا | ۵ کریډیټ | نه دی کاروړیn/a |
| اضافي کورسونه | ۳۰ کریډیټ | ۱ کال<br>• د A-G کورس باید تصویب شي |

**ټول هغه زده کوونکي چې په اینسینا کې شامل شوي باید ښوونځي ی د ټولګي د درجی د نوم لیکنې پالیسۍ سره سم کورسونه تعقیب کړي، کوم چې د ښوونیزی حوزی د فراغت د اړتیاو څخه ډیر دي.**

نور معلومات:
هره ښوونځۍ ممکن اضافي مختلفی اړتیاوې ولري. مشاورین هم کولی شي د زده کوونکو د اړتیاو پراساس د انعطاف وړاندیز وکړي. د A-G غوره شوي کورسونه باید لږترلږه د C- درجې سره پاس شي. د فراغت اړتیاو، د کالج A-G اړتیاوو او د نمونې کورس پلانونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، لطفاً زمونږ ویب پاڼه وګورئ
www.sanjuan.edu/collegecareerready.

# فعالیتونه او پروګرامونه

## د زده کوونکو فعالیتونه

د زده کوونکو فعالیتونو پروګرام د زده کوونکو د ګډون لپاره د غیر نصابي فرصتونو رامینځته کولو لپاره ډیزاین شوی. دا برنامه د زده کوونکي د حکومت په ټولګي کې د زده کونکو د مشرانو لخوا پرمخ وړل کیږي. مشران په ټول کال کې فرصتونه وړاندې کوي لکه جشنونه، لاریونونه، کلپونه، د غرمې وخت فعالیتونه، روحي اونۍ او د ښوونځي وروسته مختلف فعالیتونه. د دې پروګرام موخه زمونږ د ښوونځي د وياړ احساس او زمونږ د زده کوونکو کلتور پیاوړی کول دي. زده کوونکي هڅول کیږي چې د خپلې خوښې کلبونو سره یوځای شي یا په غیر نصابي فعالیتونو کې برخه واخلي. اړوند نور معلومات د Mr. Navasero in R2 before school په پاڼه کې وګورئ. د کلبونو، د ښوونځي جشنونو، د زنګ فعالیتونو او د ښوونځي نور سپانسر شوي پیښو بشپړ لیست د ښوونځي په ویب پاڼه او ټولنیزو رسنیو کې شتون لري. که تاسو د زده کونکي مشر کیدو او د زده کوونکو د حکومت په ټولګي کې د شاملیدو لپاره لیوالتیا لرئ، د مهالویش بدلون لپاره میرمن پیټرسن (Mr. Navasero) یا د خپل ښوونځي د مشاور سره وګورئ.

## ورزشکاران

په اینسینا کې ورزشکاران د تعلیمي تجربې لازمي برخه ده. مونږ احساس کوو چې زمونږ ورزشي وړاندیزونه دومره متنوع دي چې د ښوونځي په ساحه کې د هر زده کوونکي اړتیاوې پوره کړي. د اتلیټیک دفتر سره په 971-5813 شمیره اړیکې ونیسئ. د Encina د سپورټ په پروګرام کې لاندې لوبې شامل دي:

| د منې لوبې | د ژمي لوبې | د پسرلي لوبې |
|---|---|---|
| د هلکانو ساکر | د هلکانو باسکټبال | بیسبال |
| د هیواد په کچه | د نجونو باسکټبال | د هلکانو والیبال |
| فوټبال | پهلواني | د انجونو ساکر |
| د نجونو فلیګ فټبال | | سافټ بال |
| د نجونو والیبال | | ټینیس (Co-Ed) |
| | | ټریک او فیلډ (Track and Field) |

## ورزشي وړتیا

مخکې له دې چې د ورزشي ټیم فعالیت یا سپورټي پیښه کې برخه واخلي، هر زده کوونکي باید لاندې اکاډمیک اړتیاوې پوره کړي:

- پرته له کوم محدودیت څخه د ګډون لپاره، زده کونکي لوبغاړي باید په ټولو ثبت شویو ټولګیو کې د 4.0 درجې په کچه GPA 2.0 ولري. زده کوونکي باید د بشپړ وخت اکاډمیک لوډ سره نوم لیکنه وکړي (CIF قانون ۲۰۵).
- درجې د سمسټر په جریان کې څلور ځلې کتل کیږي (په هر ربع کې دوه ځلې).
- هغه لوبغاړي چې د سپورټ په موسم کې له یو ځل څخه زیات غیرمسلکي اعلان شوی وي د پاتې سپورټ فصل لپاره به مستحق نه وي. زده کوونکی کولی شي په راتلونکي فصل کې سیالۍ ته راستون شي، که چیرې زده کوونکی د درجې دورې په پای کې علمي وړتیا بیرته ترلاسه کړي.

# د زده کوونکو اضافي خدمتونه

**د بایسکلونو د ساتلو ځای:** د زده‌کوونکو لپاره د بایسکلونو د قلف کولو په موخه د بایسکلونو ریکونه (ځایونه) موجود دي. زده‌کوونکي باید خپل قلفونه له خانه سره راوړي. بایسکلونه او سکیټ‌بورډونه باید د ښوونځي په انګړ کې د ټګ راتګ لپاره ونه کارول شي. همدارنګه، سکیټ‌بورډونه اجازه نه لري چې د ښوونځي د ورځې په جریان کې له یوه ټولګي څخه بل ټولګي ته یووړل شي. هغه زده‌کوونکي چې په دهلېزونو کې په سکیټ‌بورډ یا سکوټر سپرېږي، وسیله به یې ترې واخیستل شي او دفتر ته به وسپارل شي. زده‌کوونکي کولی شي خپله وسیله د ورځې په پای کې له دفتر څخه بېرته واخلي. هغه زده‌کوونکي چې د دې مقرراتو څخه سرغړونه وکړي، ممکن ادارې ته راجع شي او د انضباطي اقداماتو سره مخ شي. انسینا د هغو بایسکلونو او سکیټ‌بورډونو مسؤلیت نه اخلي چې په انګړ یا لاکرونو کې پرېښودل شوي وي.

**د زده کوونکي پارکینګ:** د زده کوونکي د موټر ودرولو ځای په شاته پارکینګ کې موقعیت لري ، د سپورټ لوی تالار ته نږدې. زده کوونکي باید هر وخت په احتیاط سره موټر چلوي، په پارکینګ کې د موټر چلولو سرعت پنځه مایله في ساعت دی. هغه زده کوونکي چې په احتیاط سره موټر نه چلوي ممکن د قانوني عمل سره مخ شي، په شمول د ممکنه پارکینګ جواز لغوه کول. زده کوونکي باید د کالیفورنیا د موټر چلولو د اعتبار وړ جواز ولري، تر څو وکولی شي په ښوونځي کې موټر وچلوي او پارک یې کړي.

**د مالي دفتر:** والدین / مراجعین کولی شي د سهار له ۸ څخه د مازیګر تر ۴ بجو پورې لاسرسی ومومي .زده کوونکي کولی شي د ښوونځي څخه مخکې یا وروسته د ښوونځي په دفتر کې مرستې ته لاسرسی ومومي. دوی کولی شي یوازې د لوبانو په اجازې سره د غرمې ډوډۍ په جریان کې لاسرسی ولري.

**د خواړو خدمتونه:** انسینا اوس مهال د خوړو خدماتو لپاره د دولت د ټولنې وړتیا چمتو کولو (CEP) پروګرام کې برخه اخلي. له همدې امله، ټول زده کوونکي چې په اینسینا کې شامل شوي د دې مستحق دي چې د سهار او غرمې ډوډۍ په وړیا توګه ترلاسه کړي. ځکه چې په ښوونځي کې د اوسني قانون لاندې نوم لیکنه په اتوماتیک ډول ټول زده کونکي په برنامه کې مستحق کوي، د نوم لیکنې غوښتنلیک ته اړتیا نشته. په هرصورت، ښوونځي ممکن د پروګرام د پلټنې او واک ورکولو پروسې د یوې برخې په توګه د ښوونیز کال په دوران کې د کورنیو څخه د ځینې مالي معلومات راټولولو ته اړتیا ولري.

**د ښوونځي انځورونه/ پیژند کارتونه:** زده کوونکي اړ دي چې د تعلیمي کال په پیل کې خپل عکس واخلي، پرته له دې چې عکس اخیستل شوی وي یا نه. دا عکسونه د ښوونځي په کال کتاب کې او همدارنګه د لازمي پیژند کارتونو لپاره کارول کیږي. هر زده کوونکي ته به د زده کونکي پیژند کارت ورکړل شي چې د عکس اخیستلو په ورځ به وویشل شي. کله چې زده کوونکي په کیمپس کې وي یا د انسینا په کوم فعالیت کې برخه اخلي ،باید د اوسني ښوونځي پیژند کارت د ځان سره ولري. د زده کونکي پیژند کارت باید د ښوونځي دفترونو سره د کار لپاره

وکارول شي. لومړی کارت وړیا دی؛ د بدیل کارتونه د مالیې په دفتر کې د $ 5.00 په بدل کی اخیستل کیدی شي.

**کتابتون:** کتابتون د زده کوونکو او کارمندانو لپاره په اکاډمیکو او ژوند کې د زده کونوکو د ودې او بریالیتوب سره مرسته کوي، د لوستلو او څیړنیزو موادو، کمپیوټرونو، د زده کړې پورې اړوند فعالیتونو لپاره د انټرنیټ لاسرسی، د ټولګیو دندو چمتو کولو، او د خاموشه مطالعې لپاره ځای چمتو کوي. د کتابتون کارمندان کولی شي د زده کونکو سره د موادو موندلو او کارولو په زده کړه کې مرسته وکړي، مواد وګوري، او د انتقادي فکر او څیړنې مهارتونو ته وده ورکړي. ډیری توکي ممکن د درې اونیو مودې لپاره زده کوونکی د ځان سره وساتی او د اړتیا سره سم وخت یې تمدید کړي. زده کوونکي مسوولیت لري چې کتابونه په وخت او ښه حالت کې بیرته تسلیم کړي ترڅو نور خلک ترې ګټه واخلي. ورک شوي یا په غیر معقول ډول خراب شوي کتابونه به د جریمې لامل شي او ممکن زده کونکي د ډیپلوم او / ترانسکریپټ د ترلاسه کولو مخه ونیسي.

**ورک شوي او موندل شوي**: ورک شوي او موندل شوي توکي ممکن په فرنټ میز کې یا د ښوونځی د  دفتر څخه بیرته ترلاسه شي. که په وخت سره ادعا ونه شي، نو توکي به د مرستی لپاره بل چا ته ورکړل شي.

**درمل:** هغه زده کونکي چې د ډاکټر لخوا وړاندیز شوي درمل اخلي باید درمل په اصلي قوطی کې یې د ډاکټر له نسخې سره یو ځای د نرس دفتر ته راوړي. درمل به یوازې د طبي نسخې سره سم زده کونکي ته ورکول کیږي.

**درسي کتابونه**: درسي کتابونه هر زده کونکي ته د ښوونکي لخوا د ټولګیو د مهالویش پر مهال ورکول کیږي. زده کونکي د هر هغه درسي کتابونو مسؤلیت لري چې دوی ته سپارل کیږي او باید په ښه حالت کې یې وساتي او په خپل وخت یې بیرته راوړي. ټول درسي کتابونه د ټولګي د پای نیټې پورې اړه لري او ورته کتاب باید په اصل او لومړي حالت کې بیرته راوړل شي. له زده کوونکو څخه به د هغه کتابونو لپاره پیسې اخیستل کیږي کوم چی د دوی له طرفه په غیر معقول ډول خراب شوي. که یو زده کوونکی په انفرادي ډول درسي کتاب اخلي، ښوونکی باید دا د کتابتون د کارمندانو سره تنظیم کړي.

**ترانسکریپټ** : دولسم ټولګي (Seniors) کولی شي د راجستر کوونکي څخه غوښتنه وکړي چې د دوي د ټرانسکریپټ یوه رسمي کاپي کالجونو ته واستوي. د ټولو رانسکرپټونو لپاره د پنځو کاري ورځو خبرتیا اړینه ده.

**د کار جوازونه:** هر هغه زده کوونکی چې عمر یې د ۱۸ کلونو څخه کم وي باید د قانوني کار کولو لپاره د اعتبار وړ د کار جواز ولري. د غوښتنلیک فورمه په حاضری یا په استفبالیه کې موجوده ده. درجې، چلند، او حاضري باید د کار جواز د ترلاسه کولو لپاره د قناعت وړ وي. د وړتیا د چک کولو پروسه لږترلږه ۴۸ ساعته وخت نیسي. هر هغه زده کوونکی چې د **دوهمې حاضري لیک** ترلاسه کوي سمدلاسه به خپل د کار جواز له لاسه ورکړي. دا وړتوب به د ښوونځي پاتې کال لپاره اغیزمن پاتې شي.